UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلامیه
http://unama.unmissions.org

**له فساد سره د مبارزې لپاره د ګډې څېلواکې کمېټې تاسیس**

کابل - ۱۱ می ۲۰۱۱: د فساد ضد د څارنې او ارزونې کمیټه نن په کابل کې خپله لومړنۍ غونډه پرانیزي. د کمیټې لومړۍ ناسته د لندن او کابل د کنفرانسونو په تعقیب جوړه شوې چې د افغانستان د حکومت او نړیوالې ټولنې ترمنځ له فساد سره د مبارزې په لار کې پرې هوکړه شوې وه.

د دې کمیټې شپږ تنه غړي چې افغان او نړیوال کارپوهان دي، د ولسمشر په فرمان تعیین شوي دي. دغه کمیټه دنده لري چې له فساد سره د مبارزې په لار کې د پرمختګونو د سنجش لپاره ښکاره زماني موخه طرح کړي او افغان ولسمشر، پارلمان او ټولو افغانانو ته په دې اړه د بین المللي او ملي فعالیتونو نوبتي راپورونه وړاندې کړي.

یوناما د بین المللي کارپوهانو او محترمو افغان غړو د نومولو کار ستایي او د دې کمیټې د تاسیس هرکلی کوی او هغه مشری چې افغان چارواکو په دی لړ کی ښودلی ده، د هغه تصدیق کوي.

د یوناما استازی په کنفرانس کې وویل: "موږ هیله من یو چې زموږ لومړنۍ غونډه به له فساد سره د مبارزې په لا ر کې زموږ ټولو د پیاوړی ژمنې او بشپړه همکاری ښکارندویه وې."

یوناما د دې غوښتنه کوی چې ټول له نوموړې کمیټې سره همکاري وکړي څو دغه کمیټه وتوانیږي چې په افغانستان کې له فساد سره په مبارزې کی په ستراتیژیکي، عملیاتي او تاکتیکي اړخونو کی اغیزناکه ثابته شي.

**د ایډیټورانو لپاره یادښتونه:**

د فساد ضد د څارنې او ارزونې د کمیټې غړي په لاندې ډول دي:

۱. محمد یاسین عثماني (افغان) د څار د عالي دفتر پخواني عمومي رئیس (فعلا د کمیټې رئیس).
۲. ډاکټر محمد اعظم دادفر (افغان) د لوړو زده کړو او د کډوالو پخواني وزیر
۳. ډاکټر صدیق الله (افغان) په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوی د کندهار د ولایتي دفتر مرستیال.
۴. دراګوس کاس (سلوانیا) د فساد پر ضد د اروپایي ډلې هیوادونو د شورا رئیس.
۵. نیوحو ریبادو (نایجیریا) د اقتصادي او مالي جرمونو د کمیسیون پخواني رئیس. ( د ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۰۷ پوری)
۶. ایری ریانا هاردجاپامیکاس (اندونیزیا ) د اندونیزیا د فساد د له منځه وړلو د کمیسیون پخوانی مرستیاله ( د ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۰۷ پوری)

د نوموړو غړو د بیوګرافیو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره زموږ له ویب پاڼې څخه لیدنه وکړئ: